د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 455**

( 12 - 18 لیندۍ 1403 هـ ش)

## په افغانستان کې د چین او روسیې موخې او د دوی د ګټو د اشتراک او افتراق ټکي



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- په افغانستان کې د چین او روسیې موخې او د دوی د ګټو د اشتراک او افتراق ټکي ..................3
- په افغانستان کې د چین او روسیې موخې.......................................................3
- په افغانستان کې د چین او روسیې د ګټو شریک ټکي ...........................................7
- په افغانستان کې د روسیی او چین د ګټو د اختلاف ټکي...........................................8
- پایله ..................................................................................9
- وړاندیزونه ...........................................................................10
- سرچینې ............................................................................10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## په افغانستان کې د چین او روسیې موخې او د دوی د ګټو د اشتراک او افتراق ټکي

### سریزه

په تېرو دوو اونیو کې کابل د اسیا د دوو سترو قدرتونو چین او روسیې د دوو لوړ پوړو چارواکو د حضور شاهد و. د چین په استازیتوب د افغانستان لپاره د دغه هېواد ځانګړی استازی یوشیاویونګ، پاکستان ته له سفر وروسته د لیندۍ په دربیمه نېټه کابل ته راغی او د روسیې له لوري هم د روسیې د ملي امنیت شورا منشي سرګې شویګو د روان کال د لیندۍ په شپږمه کابل ته راغی. په ګڼو غونډو کې چې د اسلامي امارت د مرستیالانو او د دفاع او کورنیو چارو وزیرانو په ګډون د اسلامي امارت له چارواکو سره یې لرلې، دواړو پلاویو په ګڼو موضوعاتو لکه د سیاسي اړیکو د پراختیا، د اقتصادي او ټرانزیت د پراختیا او په افغانستان کې د کانونو په برخه کې د پانګونې په اړه خبرې وکړې. په دې برخه کې دا پوښتنې راپورته کېږي چې چین او روسیه په افغانستان کې د څه په لټه کې دي؟ په افغانستان کې د دغو دوو سترو قدرتونو ګډې ګټې او د ګټو تضاد په څه کې دی؟ او دا چې افغانستان له دغو اړیکو څخه څه ډول ګټه پورته کولای شي. په دې تحلیل کې هڅه شوې چې همدغو پوښتنو ته ځوابونه وړاندې شي.

### په افغانستان کې د چین او روسیې موخې

په ټولیز ډول په افغانستان کې د چین او روسیه سیاسي، امنیتي او اقتصادي موخې لري، چې دلته پرې بحث کوو.

#### لومړی- سیاسي موخې

- په تېرو شلو کلونو کې هغه څه چې روسیه او چین یې د افغانستان په اړه اندېښمن کړي، د یوه داسې نظام نشتوالی و چې د دغو دوو هېوادونو لپاره د منلو وړ وی. شل کلن جمهوریت په افغانستان کې د غرب متحد نظام ګڼل کېده چې د دغو سترو ځواکونو په مقابل کې یې قرار درلود، له همدې امله د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته دغه دوه قدرتونه غواړي چې په افغانستان کې له اوسني نظام څخه ملاتړ وکړي. هغه تودې او نرمې اړیکې چې چین او روسیې له اسلامي امارت سره ټینګې کړې دي د همدې موخې پر بنسټ ارزول کیدای شي. روسان او چینایان په دې پوه شوي چې اسلامي امارت یو داسې نظام دی چې له غرب سره تعامل او ستراتیژیکې اړیکې نه لري، نو له همدې امله یې له دغه نظام سره د تعامل او اړیکو ټینګول خپله لومړنۍ سیاسي موخه ټاکلې ده.
- د دربیم اړخ له نفوذ څخه پرته اړیکې درلودل. بله موخه چې چین او روسیه یې په افغانستان کې تعقیبوي دا ده چې له اسلامي امارت سره داسې اړیکې وساتي چې هغه د دربیم لوري په ځانګړي ډول د متحده ایالاتو او غرب له اغېزو لرې وي، ځکه همدغه موضوع په پخواني نظام کې د دغو دوو


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هېوادونو د خپګان لامل و. د روسيې او چين په وينا، اسلامي امارت په افغانستان کې د يوه حکومت په توګه د خپل ثبات په لومړيو پړاوونو کې دی، چې بايد ملاتړ يې وشي. هغه څه چې د دغو دواړو هېوادونو چارواکو ځو ځلې منلي دي او په دې وروستيو کې د روسيې ولسمشر يو ځل بيا پر دې موضوع ټينګار کړی او ويلي يې دي: "موږ له دې حقيقت سترګې نه شو پټولای چې په افغانستان کې وضعيت د ثبات په لور روان دی او مسکو د دغه هېواد له اوسنيو چارواکو سره اړيکې لري او دوام ورکوي."[1] په حقيقت کې د بهرنيو هېوادونو د چارواکو دا ډول خبرې د دې حقيقت ښکارندويي کوي چې افغانستان اوس مهال يو خپلواک او په ځان بسيا سياسي نظام لري او د دې لپاره چې دغه سياسي نظام د نورو هېوادونو په ځانګړې توګه د متحده ايالاتو تر اغېز لاندې نه وي، نو له اسلامي امارت سره بايد اړيکې نږدې او ژورې وساتل شي.

- په سيمه ييزو او نړيوالو مسايلو کې سياسي اجماع. په نړۍ کې حکومتونه د سياسي ملاتړ په لټه کې دي. د چين او روسيې له نظره، افغانستان اوسمهال يو داسې نظام لري، چې موخې او ګټې يې تر يوه حده د دغو دواړو هېوادونو له سيمه ييزو ګټو سره تړلې دي. که څه هم اسلامي امارت تر اوسه په سيمه ييزو او نړيوالو مسايلو کې بې طرفه اړخ نيولی، چې د چين او روسيې لپاره هم هيله من خبر دی، خو دا دواړه هيوادونه هڅه کوي چې اسلامي امارت سره د اړيکو د نږدې کولو له لارې امارت دې ته قانع کړي چې د نړيوالو مسايلو او موضوعاتو په اړه د روسيې او چين تعريف په نظر کې ونيسي. که څه هم په سيمه ييزو اړخونو کې د اسلامي امارت تګلاره يو څه د يادو هېوادونو له چلند سره نږدې ده، په تېره بيا د داعش په څېر ډلو او بېلتونپالو سره د مبارزې په برخه کې او همدارنګه له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې، خو بيا هم دواړه هيوادونه هڅه کوي چې د لويو مسايلو او موضوعاتو په اړه اسلامي امارت د چين او روسيې دريځ او موخې په نظر کې ونيسي.

**دويم- امنيتي موخې**

- د افغانستان له خاورې دوی ته د ګواښ نه پيښېدل. لومړنی او تر ټولو مهم امنيتي هدف چې روسيه او چين يې د اسلامي امارت له نږدې کيدو څخه تعقيبوي له افغانستان څخه د دغو هېوادونو خاورې او ګټو ته د ګواښ مخنيوی دی. په حقيقت کې دا هدف تر ټولو مرکزي او حياتي هدف دی چې د افغانستان د شاوخوا هېوادونو په ځانګړې توګه روسيه او چين چې د امنيت له پلوه له افغانستان څخه په لوړه کچه زيانمنونکی دی، تعقيبوي. ځکه چې افغانستان په تېرو درېيو لسيزو کې د دغو دوو هېوادونو لپاره د ګواښ تر ټولو مهمه سرچينه پاتې شوې ده. په دې برخه کې د دواړو هېوادونو لپاره د جذب او تشويق رامنځته کېدل د اسلامي امارت ژمنې دي چې هېڅ هېواد به د افغانستان له لوري نه ګواښل کېږي. که څه هم اسلامي امارت له تېرو درېيو کلونو راهيسې پر خپلو ژمنو ولاړ دی، خو د دواړو هېوادونو چارواکي په افغانستان کې د ترهګرو ډلو له شتون څخه شکايت کوي. د بېلګې

په توګه، افغانستان ته له خپل سفر مخکې، په پاکستان کې د چين استازي په افغانستان کې د شلو ترهګرو ډلو شتون اعلان کړ.[2] یا دا چې روسان په دوامداره ډول په افغانستان کې د داعش او نورو ډلو د شتون خبره کوي. تر دې چې څو ورځې وړاندې په تاجکستان کې هغه چينايي تبعه ووژل شو، چې ويل کېږي بريدګر له افغانستانه تاجکستان ته داخل شوی و.[3] دا ټول مسايل په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د شتون په اړه د دغو هېوادونو ژوره اندېښنه څرګندوي. البته هغه څه چې د دغو هېوادونو لپاره د هڅونې سرچينه ګڼل کېږي، له دغو ډلو سره د مبارزې په اړه د اسلامي امارت قاطع اراده ده، چې په شعارونو او کړنو دواړو کې ليدل کېږي. څه چې افغانستان ته د روسيې د امنيت شورا د سرمنشي د سفر يو مهم محور له ترهګرو ډلو سره د ګډې مبارزې لپاره د زمينې او پليټ فارم جوړول او په دې برخه کې د لازمې همغږۍ رامنځته کول وو.[4] په واضح ډول هغه څه چې روسيه او چين مجبوروي چې له اسلامي امارت سره نږدې همکاري وکړي له ترهګرو ډلو سره مبارزه ده چې اصلي عامل يې د ټولو خواوو ګډ نظر دی.

- د افغانستان له امنيتي وضعيت څخه مستقيمه څارنه

بل امنيتي هدف چې روسيه او چين يې په افغانستان کې تعقيبوي دا دی چې افغانستان د چين او روسيې ضد پوځي اتحاد په ځانګړې توګه د امريکا متحده ايالاتو په څېر قدرتونو سره د يوځای کېدو مخه ونيسي. تر ټولو مهمه دښمني چې چين او روسيې په تېر کې د افغانستان په اړه درلوده له امريکا او ناټو سره د دغه هېواد پوځي اتحاد و. افغانستان د يوه داسې هيواد په توګه چې د موقعيت له پلوه چين او روسيې ته نږدې دی، که له يوه دښمن بهرني ځواک سره په اتحاد کې ځای شي، د دوی پر وړاندې ستر جيوستراتيژيک ګواښ رامنځته کولای شي. له همدې امله دواړه هېوادونه هڅه کوي چې له افغانستان سره په امنيتي نږدېوالي سره، په دښمن ډوله ايتلاف کې د دغه هېواد د بيا جذبېدو مخه ونيسي.

- له افغانستان او په دغه هېواد کې د ترهګرو ډلو څخه مستقيمه څارنه

بله موضوع چې د روسيې او چين لپاره خورا مهمه ده، چې دوی يې بايد له نږدې وڅاري، د ترهګرو ډلو شتون، د هغو ګواښونو څرنګوالی او اندازه ده چې له افغانستان څخه د دغو هيوادونو پر وړاندې رامنځته کيږي. لکه مخکې مو چې وويل، سره له دې چې روسان او چينايان له اسلامي امارت څخه ډاډمن دي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت ټول نظام او حاکميت به هغو هيوادونو ته زيان ونه رسوي، حتی تر دې چې روسيه د اسلامي امارت نوم د ترهګرو له ډلې څخه ايستل تر وروستۍ مرحلې ته رسولی دی، خو دواړو هېوادونو لا تر اوسه لازم ډاډ نه دی ترلاسه کړی چې له افغانستان څخه به ورته ګواښ نه پېښيږي. له همدې امله له افغانستان څخه د تروريستي ډلو د ګواښونو د شمير او اندازې د مستقيمې څارنې لپاره بايد په دغه هيواد کې مستقيم حضور ولري، چې په طبيعي ډول د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره له اسلامي امارت سره نږدې او لازيات تعامل ته اړتيا ده.

**دریم -اقتصادي موخې**

د سیاسي او امنیتي اهدافو ترڅنګ روسیه او چین دواړه په افغانستان کې اقتصادي اهداف هم تعقیبوي. د جمهوریت پر مهال که څه هم چینایانو له افغانستان سره ګڼ اقتصادي تړونونه وکړل لکه د عینک د مسو استخراج او د امو سیند د حوزې د نفتو استخراج او حتی افغان حکومت په دې پلمه چې په افغانستان کې د روسیې د اقتصادي حضور پر وړاندې کوم خنډ نه دی، خو په دغه هیواد کې د امریکا شتون د دې لامل شو چې دواړه هیوادونه په ازاده توګه له افغانستان سره د لویې کچې اقتصادي اړیکې رامنځته نه کړي. په افغانستان باندې د اسلامي امارت نوی حاکمیت د ټولو هیوادونو په تیره بیا چین او روسیې ته دا فرصت برابر کړ، چې له همدې امله لیدل کیږي چې دواړه هیوادونه له افغانستان سره پراخ اقتصادي تعاملات او لوی اقتصادي پلانونه لري چې په لاندې محورونو کې لیدل کیږي.

- د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا، په ځانګړې توګه افغانستان ته د صادراتو زیات تمرکز؛ سره له دې چې پخوا چین افغانستان ته د صادراتو په برخه کې مخکښ و، خو له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو د زیاتولو لپاره د دغه هېواد هڅې وروسته له هغې زیاتې شوې چې چین اعلان وکړ چې له افغانستان څخه پر وارداتي توکو به ګمرکي تعرفې لږې کړي. یا دا چې چینایان هڅه کوي چې د افغانستان او چین ترمنځ د اورګاډي مستقله کرښه له افغانستان سره د صادراتو او وارداتو اصلي لار وګرځوي. که څه هم د ازموینې په توګه، یو یا دوه ځله له دې لارې لیږد ترسره شوی وي. روسانو هم له افغانستان سره په تېرو دربېو لسیزو کې ډېرې اقتصادي اړیکې درلودې، په افغانستان کې د کورنۍ جګړې او په دغه هېواد کې د امریکا د حضور له امله د نورو هېوادونو په پرتله د افغانستان له اقتصادي بازاره بې برخې شول. روسان د هغو ظرفیتونو له مخې چې دوی یې لري، په ځانګړې توګه د نفتي توکو او خوراکي توکو لکه غنمو او نفتو او حتی د صنعتي ماشینونو د صادراتو په برخه کې چې په افغانستان کې په پراخه کچه منل شوي، د سوداګرۍ د کچې د لوړولو او له افغانستان سره د تبادلې په برخه کې یې خپل لاسونه پورته کړي دي. همدا و چې د روسیې د ملي امنیت شورا د منشي د سفر یو مهم محور له افغانستان سره د سوداګرۍ د کچې د لوړولو په اړه خبرې اترې وې. له دې ټولو سره سره روسانو د افغانستان د حالاتو او په ځانګړې توګه د شمال – جنوب د ترانزیت په برخه کې د پام وړ رول درک کړی دی. روسان په دې پوه شوي چې د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره په همکارۍ، د افغانستان له لارې له دوو هېوادونو پاکستان او هند سره د خپلې ځمکنۍ سوداګرۍ لپاره کار اخلي. له همدې امله مسکو د ټرانس-افغان په پروژه کې د ګډون لپاره لېوالتیا ښودلې ده.
- په کانونو کې پانګونه؛ یو بل اهمیت چې افغانستان یې د ټولو هیوادونو لپاره لري د څو ټریلیون ډالرو په ارزښت د هیواد سرچینې دي. اسلامي امارت چې په دې برخه کې یې د پانګونې دروازې د ټولو پانګوالو پر مخ پرانیستې دي، په دې ټولو کې یوازې د روسانو شتون کم لیدل کیږي، په داسې حال

کې چې روسيه د کانونو په برخه کې د علم، ټيکنالوژي او پوهې له پلوه د پام وړ رول لوبولی شي. روسان دې نتيجې ته رسيدلي چې که دوی ځنډ وکړي، نو د دوی خالي ځايونه به د نورو لخوا ډک شي او دوی به د لوی اقتصادي ګټو څخه بې برخې شي، نو په دې بازار کې د خپلې ونډې د ترلاسه کولو لپاره د پلاوي په لېږلو سره ډېره ګټه پورته کړې ده. بې له شکه په دې برخه کې چينايان زيات بريالي شوي دي، ځکه چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په وروستيو دريو کلونو کې چين په افغانستان کې د ستر پانګوال په توګه په دې وتوانېد چې په دې برخه کې ډېره ونډه ترلاسه کړي. په افغانستان کې اوس مهال د چينايي شرکتونو ټوله پانګونه څه باندې پنځه سوه مليون ډالرو ته رسېدلې او شاوخوا سل چينايي شرکتونه په افغانستان کې د پانګونې لپاره د افغانستان په کانونو وزارت کې ثبت شوي دي.[5]

## په افغانستان کې د چين او روسيې د ګټو شريک ټکي

په افغانستان کې د چين او روسيې د اهدافو او ګټو په څېړلو سره څرګنده شوه چې په افغانستان کې د دغو دوو هيوادونو ګډې ګټې په لاندې ډول دي:

- په افغانستان کې د يو متحد حکومت ملاتړ؛ د چين او روسيې ګډې ګټې له افغانستان سره د دوی د نږدېوالي له امله په افغانستان کې د يوه متحد او پياوړي مرکزي حکومت په شتون کې نغښتې دي. هغه څه چې دغه دواړه هيوادونه له اسلامي امارت سره همکارۍ ته هڅوي، هغه انګيرنه ده چې دواړه هيوادونه د اسلامي امارت شتون د خپل ځان او په سيمه کې د خپلو ملګرو د ګټو لپاره د يو متحد، قوي او مرکزي حکومت په توګه ګڼي. البته لکه څنګه چې په سياسي او امنيتي موخو کې پرې خبرې وشوې، روسيه او چين به په افغانستان کې د داسې يو خپلواک او مرکزي حکومت ملاتړ وکړي چې د لويديځو قدرتونو څخه اغېزمن نه وي. په دې برخه کې د اسلامي امارت تګلاره په بهرني سياست کې بې طرفي ده. يو بې طرفه افغانستان د سيمې هېوادونو په تېره بيا روسيې او چين ته تر بل هر څه ډېر ګټور تمامېدای شي.
- له تخريبي ډلو سره په جګړه کې د اسلامي امارت ملاتړ؛ دا يقيني ده چې په افغانستان کې د ډلو شتون د روسيې او چين دواړو لپاره جدي ګواښ ګڼل کيږي، ځکه افغانستان د هغو ترهګرو ډلو د خيز د تختې په توګه ګڼل کيږي چې پر روسيې او چين بريدونه کوي. له بلې خوا اسلامي امارت په افغانستان کې د واک له ترلاسه کولو راهيسې د داعش پر وړاندې جدي مبارزه کړې او په افغانستان کې يې دغه ډله تقريباً له منځه وړې ده. په حقيقت کې د تروريستي ډلو په اړه د ټولو دريو خواوو يعنې چين، روسيې او اسلامي امارت تر منځ مشترک تعريف شتون لري. دغه ګډ فصل د دې لامل

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

شوی چې دواړه هېوادونه روسیه او چین د داعش پر وړاندې د اسلامي امارت د جدي مبارزې د ستاینې ترڅنګ له اسلامي امارت سره خپل ګډ ملاتړ څرګند کړي.

- په افغانستان کې د لویدیځوالو په ځانګړې توګه د امریکا د بیا راڅرګندېدو سره مخالفت؛ بل مشترک ټکی چې روسیه او چین یې په افغانستان کې لري په افغانستان کې د لویدیځوالو په ځانګړې توګه د امریکا د حضور مخنیوی دی. که څه هم چین او روسیه تر اوسه په دې نه دي توانیدلي چې له افغانستان سره د لویدیځ د مرستو ځای ډک کړي، خو دواړه هیوادونه هڅه کوي چې د اقتصادي همکاریو په زیاتولو او په افغانستان کې په پانګونې سره دغه هیواد د لویدیځو سرچینو له تکیه څخه خلاص کړي.
- د افغانستان په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه، په ځانګړې توګه د کورنیو سیاستونو په ډګر کې؛ روسیې او چین دواړو په تېرو دریو کلونو کې وښودله چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې ته زړه نه ښه کوي. که څه هم دواړه هېوادونه وخت په وخت په افغانستان کې د یوه جامع حکومت د جوړېدو خبرې کوي، خو د دواړو هېوادونو اصلي او عملي تګلارې د افغانستان په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه او په دغه هېواد کې د یوې ډلې یا ډلو ملاتړ نه کول دي. په بل عبارت، روسیه او چین د افغانستان له موجوده حکومت سره په ښکاره او شفاف تعامل کې خپله اصلي پالیسي مشخصه کړې او تر یوه حده یې په افغانستان کې د روانو تمایلاتو ملاتړ کړی.

## په افغانستان کې د روسیې او چین د ګټو د اختلاف ټکي

دا سمه ده چې روسیه او چین په افغانستان کې د خپلو ګټو د شریکولو په برخه کې د هماهنګۍ سربیره دواړه هیوادونه په نورو مسایلو کې هم د سیالۍ ډګر ته راکش کړي. په سیاسي او امنیتي برخو کې اوس مهال داسې مسایل شتون نه لري چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اختلاف یا سیالۍ لامل شي. هغه څه چې ښایي په افغانستان کې د چین او روسیې لپاره د سیالۍ سبب شي، اقتصادي ګټې دي. احتمال دی چې روسیه او چین په افغانستان کې د کانونو په برخه کې د پانګونې پر سر په سیالۍ کې ښکېل شي. البته دا احتمال هغه وخت روښانه کیدای شي چې چینایان په دې برخه کې په افغانستان کې د روسانو د حضور د مخنیوي هڅه وکړي، خو ښایي چینایان لېواله وي چې د افغانستان د کانونو په استخراج کې انحصار ولري، خو دا احتمال هم کمزوری دی چې دوی به په افغانستان کې د روسیې د حضور مخه ونیسي. له بلې خوا اسلامي امارت د خپلو خلاصو اقتصادي سیاستونو له امله کولای شي په دې برخه کې په افغانستان کې د چین او روسیې ترمنځ د سیالۍ مخه ونیسي. بله مسله د ترانزیت مسله ده، که څه هم افغانستان د چین په لوی کمربند او یوې لارې پروژه کې مناسب ځای نه لري، خو چینایان هڅه کوي چې د دې پروژې په شمالي او جنوبي لارو کې افغانستان هم شریک کړي، چې په دې برخه کې د چین، پاکستان او افغانستان تر منځ



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

درې اړخيزې خبرې شوې دي. همدارنګه د واخان دهليز پروژه هم د بحث وړ موضوع ده چې د يوې پروژې په توګه په راتلونکې کې د کمربند پروژې د يوې برخې په توګه د يوې مهمې لارې په توګه ګڼل کيدی شي، چينايان غواړي د افغانستان له لارې له ايران سره وتړل شي. چې په دې برخه کې، پروژې لا دمخه ډيزاين شوي، او د 5 ملتونو پروژه د مثال په توګه يادولی شو. که څه هم د چين دغه ټرانزيټي اقتصادي موخې له روسيې سره هيڅ ټراو نه لري، خو کولای شي په دې برخه کې د روسيې رول کم کړي. د بېلګې په توګه، دا مسله هغه وخت يوه ستونزه رامنځته کولای شي چې روسان فکر وکړي چې په افغانستان کې شاته غورځول شوی دی. له همدې امله روسانو د ترانس – افغان په پروژه کې د ګډون لپاره خپله کلکه هيله څرګنده کړه. روسان هم غواړي چې د افغانستان له لارې له جنوبي اسيا سره وصل شي او د خپلو توليداتو لپاره په ځانګړې توګه د تېلو او ګازو په برخه کې نوي بازارونه پيدا کړي. په ظاهرا توګه په دې برخه کې د چين او روسيې موخې يو له بل سره په ټکر کې دي، خو که د لويديځ د منفي تبليغاتو موضوع ته پام ونه کړو، نو د چين او روسيې تر منځ دومره جنجال نه دی.

## پايله

په تېرو وختونو کې په افغانستان کې د امريکا شتون او په دغه هيواد کې له هغې سره د ايتلافي حکومت جوړېدل په افغانستان کې د چين او روسيې د قوي حضور پر وړاندې جدي خنډونه وو. له افغانستان څخه د امريکا وتل او په دغه هيواد کې د اسلامي امارت بيا رامنځته کيدل آسيايي قدرتونو په ځانګړې توګه روسيې او چين ته په افغانستان کې د خپل سياسي، امنيتي او اقتصادي حضور د پراخولو ښه فرصت برابر کړ. له همدې امله ليدل کېږي چې په تېرو درېيو کلونو کې دغو دواړو هېوادونو خپل لوړ پوړي سياسي، پوځي او اقتصادي چارواکي او پلاوي افغانستان ته د اړيکو د ټينګښت او اقتصادي ګټو د خوندي کولو په موخه استولي، چې وروستی کابل ته د چين ځانګړي استازی سفر و او د يوه لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ د روسيې د امنيت شورا د منشي کابل ته سفر و. دغه سفرونه او نور ټول هغه سفرونه چې د دغو دواړو هېوادونو چارواکو افغانستان ته کړي، د سياسي، امنيتي او اقتصادي موخو د ترلاسه کولو په موخه ترسره شوي دي. روسيې او چين دواړو له اسلامي امارت سره د خپلو سياسي، امنيتي او اقتصادي اړيکو د پراخولو ترڅنګ، د اسلامي امارت د نږدې کېدو لپاره نور هڅوونکي اقدامات هم کړي دي. د بېلګې په توګه چين د اسلامي امارت رسمي سفير منلی او روسيې له منع شويو ډلو څخه د اسلامي امارت د ويستلو دنده حتمي کړې ده. په ټوليزه توګه ويلای شو چې چين او روسيه له اسلامي امارت سره خپلې اړيکې په ډېره لوړه کچه مخ ته وړي، ؟ سره له دې چې روسيه او چين دواړه په افغانستان کې خپل لومړيتوبونه تعقيبوي، خو دواړه هېوادونه هڅه کوي چې په افغانستان کې د يو بل تر منځ د شخړو د رامنځته کېدو مخنيوی وکړی او اختلاف له منځه

يوسي. لکه څنګه چې په دې بحث کې ويل شوي، په افغانستان کې د دغو دوو سترو قدرتونو د همکارۍ او يو ځای کېدو ډګرونه د دوی د ټکر له ډګرونو څخه ډېر دي.

## وړاندیزونه

د پورته موندنو له مخې چې پورته يې يادونه وشوه، لاندې وړاندیزونه کيږي:

۱- اسلامي امارت ته لازمه ده چې د خپل سياسي موقف د ټينګښت لپاره دغه دوو سترو قدرتونو چين او روسيې ته ځانګړې پاملرنه وکړي؛

۲- اسلامي امارت ته لازمه ده چې د هېواد د اقتصادي پياوړتيا او ودې په موخه د دوو هېوادونو روس او چين له اقتصادي ظرفيتونو څخه سمه ګټه پورته کړي.

۳- اسلامي امارت بايد د دواړو هيوادونو د معقولو امنيتي انديښنو په حل کولو سره د هغو هيوادونو په اهدافو کې د اقتصادي پياوړتيا ته لومړيتوب ورکړي؛

۴- که څه هم روسيه او چين غواړي افغانستان په خپل مدار کې شامل کړي، خو د اسلامي امارت لپاره اړينه ده چې له دغه هيوادونو سره په ځانګړې توګه د غربي هيوادونو په وړاندې انډول وساتي.

۵- اسلامي امارت ته لازمه ده چې د هيواد د سترو ګټو د خوندي کولو په موخه د معقولو سياستونو په خپلولو سره په افغانستان کې د هيوادونو تر منځ د تصادم ډګرونه له منځه يوسي.

## سرچيني

1. راديو آزادی. « ولاديمير پوتين بر ضرورت تقويت روابط روسيه با حکومت طالبان تأکيد کرد»، نشر شده ۹ قوس ۱۴۰۲، قابل دسترسی: https://da.azadiradio.com/a/33220510.html

2. راديو آزادی. « نمايندهٔ ويژهٔ چين: حضور ۲۰ گروه تروريستی در افغانستان امنيت منطقه را تهديد می‌کند»، نشر شده ۲۹ عقرب ۱۴۰۳ قابل دسترسی: https://da.azadiradio.com/a/33207037.html

3. دويچه‌وله. « حمله مرگبار به چينی‌ها در منطقه مرزی تاجيکستان با افغانستان»، تاريخ نشر ۲۹ عقرب ۱۴۰۳ قابل دسترسی: https://www.dw.com/fa-af/%D8%AD%D9%85%D9%84%D9%87-%D9%85%D8%B1%DA%AF%D8%A8%D8%A7%D8%B1-%D8%A8%D9%87-%D8%B4%D9%87%D8%B1%D9%88%D9%86%D8%AF%D8%A7%D9%86-%DA%86%DB%8C%D9%86-%D8%AF%D8%B1-%D9%85%D9%86%D8%B7%D9%82%D9%87-%D9%85%D8%B1%D8%B2%DB%8C-%D8%AA%D8%A7%D8%AC%DB%8C%DA%A9%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%A8%D8%A7-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86/a-70821474

4. ايرنا. « سفر دبير شورای امنيت روسيه به کابل؛ تأکيد بر تقويت همکاری‌های دوجانبه»، تاريخ نشر ۶ قوس ۱۴۰۳ قابل دسترسی https://www.irna.ir/news/85671818/%D8%B3%D9%81%D8%B1-%D8%AF%D8%A8%DB%8C%D8%B1-%D8%B4%D9%88%D8%B1%D8%A7%DB%8C-%D8%A7%D9%85%D9%86%DB%8C%D8%AA-%D8%B1%D9%88%D8%B3%DB%8C%D9%87-%D8%A8%D9%87-%DA%A9%D8%A7%D8%A8%D9%84-%D8%AA%D8%A3%DA%A9%DB%8C%D8%AF-%D8%A8%D8%B1-%D8%AA%D9%82%D9%88%DB%8C%D8%AA-%D9%87%D9%85%DA%A9%D8%A7%D8%B1%DB%8C-%D9%87%D8%A7%DB%8C

5. مرکز مطالعات استراتژيک و منطقوی. «نگاهی به روابط اقتصادی امارت اسلامی افغانستان و چين»، قابل دسترسی: https://csrskabul.com/?p=8255



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000